مجله علمی- تحقیقی جوزجانان

دوره ۱۹؛ شماره ۱ (مسلسل ۴۸)؛ بهار و تابستان ۱۴۰۵؛ صفحات ۴۹- ۵۸

شاپا چاپی: ۳۰۸۰-۱۰۶۰- شاپا الکترونیکی: ۳۰۸۰-۱۰۷۹

د کیفیت لوړونې په برخه کې د معیاري ژبې ونډه

واحدالله نېکزاد[۱*]، عبدالوکیل لېوال[۲]

۱*. پوهنیار، پښتو څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، جوزجان پوهنتون، شبرغان، افغانستان (د مسئول نویسنده).
https://orcid.org/0009-0008-2174-5948 - wahidullahnekzad570@gmail.com

۲. پوهندوی، پښتو څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، جوزجان پوهنتون، شبرغان، افغانستان.
http://orcid.org/0009-0000-8339-2262 - wakillewal1989@gmail.com

(تاریخ دریافت: ۱۴۰۵/۳/۲۶ - تاریخ پذیرش: ۱۴۰۵/۷/۱۶)

لنډیز

دا مقاله د ژبې ونډه او اغېز د کیفیت لوړونې په بهیر کې تر څېړنې لاندې نیسي، ژبه یوازې د افهام او تفهیم وسیله نه ده، بلکې د هر ډول علمي، اداري او مسلکي بهیر بنسټ جوړوي، د دې مقالې څخه څرګندیږي چې د کیفیت لوړونې په پروسه کې د پالیسیو، تګلارو، معیارونو، اجراتو او ارزونو لپاره ژبه اساسي وسیله ده، ځکه چې دا د وضاحت، مفاهمې او معلوماتو د دقیق انتقال وسیله ده. دا مقاله روښانه کوي چې معیاري ژبه د اعتبار، رونټیا او باور جوړونې مهم فکتور دی، که ژبه روښانه، ساده او د مخاطب له اړتیاو سره برابره نه وي، نو د کیفیت لوړونې پروسه له خنډونو سره مخ کېږي، همدا راز، لیکوال د ژبې تاریخي، تولنیز او کلتوري ارزښتونه بیانوي او دا پایله ترې اخیستل کېږي، چې ژبه د یو قوم د هویت او بقا نښه ده. همدا راز یاده مقاله د لوړو زده کړو، ښوونیزو موسسو، او اداري سازمانونو په برخه کې د کیفیت لوړونې د اهمیت او د ژبې مستقیمې اغېزې ته اشاره کوي او همدا راز په دې ټینګار کوي چې بې له معیاري ژبې څخه پرته د اسنادو، راپورونو او طرزالعملونو کیفیت نه ټیټېږي، بلکې د موخو تر لاسه کول هم ستونزمنېږي. په پای کې په یاده څېړنه کې دې پایلې ته رسېږو چې ژبه او کیفیت لوړونه یو له بله نه جلا کېدونکي مفاهیم دي او د پرمختللو، معتبرو او پایدارو سیستمونو لپاره لازمي ده چې ژبه د معیار، وضاحت او مفاهمې د قوي وسیله په توګه و پېژندل شي او بعیر له ژبې نه شو کولای چې یوه منظمه او پر مختللې اداره ولرو.

کلیدي کلمې: *ژبه، کیفیت، لوړونه، مفاهمه.*

---

* **ارجاع:** نېکزاد، واحدالله و لېوال، عبدالوکیل. (۱۴۰۵). د کیفیت لوړونې په برخه کې د معیاري ژبې ونډه. *مجله علمی-تحقیقی جوزجانان*، ۱۹ (۱)، ۴۹-۵۸. https://doi.org/10.69892/jawzjanan.2026.103

Scientific-Research Journal of Jawzjanan
Volume 19; Issue 1 (Serial No. 48); Spring & Summer 2026; Pages 49–58
P-ISSN: 3080-1060– E-ISSN: 3080-1079

The Role of Standard Language in Quality Enhancement

Wahidullah Nekzad[1*], Abdul wakil lewal[2]

1*. Teaching Assistant, Department of pashto language and Literature, faculty of education, jawzjan university, sheberghan, Afghanistan (Coorsponding Authore).
wahidullahnekzad570@gmail.com - https://orcid.org/0009-0008-2174-5948

2. Assistant Prof, Department of pashto language and Literature, faculty of education, jawzjan university, sheberghan, Afghanistan.
wakillewal1989@gmail.com - http://orcid.org/0009-0000-8339-2262

(Received: 16/06/2026 - Accepted: 08/10/2026)

Abstract

This article explores the vital role and impact of language in the process of quality assurance. Language is not merely a tool for communication; it forms the foundation of all academic, administrative, and professional processes. The article highlights that in the quality assurance process, language is an essential medium for policies, strategies, standards, procedures, and evaluations because it facilitates clarity, understanding, and accurate transmission of information. The article emphasizes that standardized language is a key factor in building credibility, transparency, and trust. If the language is not clear, simple, and aligned with the needs of its audience, the quality assurance process may face significant obstacles. Additionally, the authors discuss the historical, social, and cultural value of language, concluding that language is a symbol of a nation's identity and survival. Moreover, the article points to the importance of quality assurance in higher education, educational institutions, and administrative organizations, highlighting the direct impact of language. It stresses that without standardized language, not only does the quality of documents, reports, and procedures diminish, but achieving objectives also becomes difficult. In conclusion, the article conveys that language and quality assurance are inseparable concepts, and that for systems to be advanced, credible, and sustainable, language must be recognized as a powerful tool for setting standards, ensuring clarity, and enabling effective communication. Without language, it is impossible to maintain an organized and progressive administration.

***Keywords**: Communication, Language, Quality Assurance.*

[*]**. Citation:** Nekzad, W. & Lewal, A. (2026). The Role of Standard Language in Quality Enhancement. *Scientific-Research Journal of Jawzjanan, 19*(1), 49–58. https://doi.org/10.69892/jawzjanan.2026.103

سریزه

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَىٰ سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ وَعَلَىٰ آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ

کیفیت لوړونه د یو سیستم له لارې د کیفیت د ښه والي، لوړوالي او دوام لپاره کارول کېږي، څرنګه چې ژبه د افهام او تفهیم وسیله ده، یا د ژبې په واسطه کولای شو چې خپل افکار نورو ته انتقال کړو نو په دې اند داسې یو اړخ به نه وي پاتې چې ژبه دې په هغې کې ونډه ونه لري، ژبه نه دا چې یوازې د اړیکو یوه وسیله ده، بلکې په علومو کې یو مهم عامل دی چې د معیارونو، تګلارو، لارښوونو او اجراتو د انتقال یا پلې کېدو او ارزونې لپاره بنسټیز رول لري، ژبه د مفاهمو، وضاحت او تېروتنو د مخنیوي وسیله ده، چې له دې پرته د کیفیت لوړونې بشپړ تصور کېدای نه شي. ژبه د انسانانو ترمنځ تر ټولو بنسټیزه او پیاوړې وسیله ده، خو د دې تر څنګ دا د علم، تمدن، کلتور، فکر احساس او هدف د څرګندولو لپاره تر ټولو غټه اخلي، د تاریخ، ټولنپوهنې، ژبپوهنې او معاصرو اکاډمیکو بحثونو په رڼا کې څرګندېږي چې ژبه نه یوازې د فردي اړیکو، بلکې د ټولنیزو، اداري او مسلکي جوړښتونو د دوام او پر مختګ مهم بنسټ دی، په همدې تړاو د کیفیت لوړونه یو له هغو بهیرونو څخه ده چې د هر ډول علمي او اداري نظام د اعتبار، پرمختګ او باور لپاره بنسټیز ارزښت لري، د دې بهیر موثریت او شفافیت په څرګند ډول له ژبې سره تړلي دی، ځکه ژبه د پالیسیو، معیارونو، اجراتو او ارزونو د تنظیم، تطبیق او تفهیم اساسي وسیله ده، له همدې امله، د ژبې معیاري او کلتوري حساس استعمال د کیفیت لوړونې په پروسه کې حیاتي رول لوبوي. په دې مقاله کې مې د امکان تر حده هڅه کړې چې د ژبې رول د کیفیت لوړونې په پروسه کې له بېلابېلو اړخونو څخه وڅېړم او دا په ډاګه کړم چې پرته له واضح او هدفمندې ژبې نه، نه یوازې د افهام او تفهیم بهیر ګډوډېږي، بلکې د ادارو اعتبار د کارونو موثریت او د پرمختګ امکانات هم له جدي ننګونو سره مخ کېږي.

مواد او کړنلاره

دا څېړنه چې سرلیک یې (د کیفیت لوړونې په برخه کې د معیاري ژبې ونډه) ده، موږ ته روښانه کوي چې یوه ژبه د کیفیت په برخه کې څومره مهم رول لري او که چېرته د کیفیت لوړونې په برخه کې ژبه موجوده نه وي نه له کومو ستونزو سره مخ کېدی شو؟ د دې موضوع د ټاکنې موخه کیفیت لوړونې ته د ژبې په برخه کې وده ورکول دي، ځکه چې په ټوله کې ژبه د انسانانو په افکارو ژوره اغېزه ښندي، د یادونې ده، چې د دې مقالې د سرلیک له ټاکلو وروسته مې د موضوع اړوند سرچینو په راټولو پیل وکړ، کله چې مې سرچینې راټولې کړې نو د موضوع اړوند

مې هغه سرچینې ولیدلې چې د کیفیت لوړونې او ژبې په اړه یې بحثونه درلودل، بیا مې تحلیل او تشرـــیح کړې او د مقالې په بڼه مې برابرې کړې، هېره دې نه وي چې د دې مقالې د لیکنې ډول کتابتوني دی او د مروري مېتود څخه مې ګټه اخېستې ده.

د څېړنې ارزښت

د دې څېړنې ارزښت په دې کې دی چې؛ خلک د کیفیت لوړونې په برخه کې د معیاري ژبې په ارزښت پوه شي، په ځانګړې توګه دا څېړنه لاندې برخو کې مهمه ده:

- ژبه د مفاهمې ارزونې او تدریس وسیله ده نو که ژبه واضح معیاري او تخصصي نه وي د کیفیت لوړونې برخه به له خنډونو سره مخ وي.

دغه موضوع کولی شي د ژبپوهانو، ښوونکو او کیفیت لوړونې متخصصینو لپاره څېړنې زمینه برابره کړي چې، د ژبې ارزښت په نورو برخو کې وڅېړي.

د څېړنې پوښتنې

۱. معیاري ژبه د کیفیت لوړونې په بهیر کې څه ډول ونډه لري؟

۲. د ژبنۍ رونټیا نشتوالی د کیفیت لوړونې په بهیر کې څه ډول ننګونې راولاړوي؟

د څېړنې ستونزې

په ډېرو تعلیمي ادارو کې د کیفیت لوړونې لپاره معیارونه، اسناد، ارزونې او راپورونه اکثراً په داسې ژبه چمتو کېږي چې د ډېرو ښکېلو اړخونو لپاره مفهوم نه افاده کوي، کله نا کله تدریسي ـ ژبه له اداري ژبې سره توپیر لري، یا هم د کیفیت تضمین اړوند اسناد په پردیو ژبو لیکل کېږي، چې دا ستونزې رامنځته کوي، یا په داسې یو لهجه باندې یې معلومات لیکل شوي وي چې معیاري نه وي تر څو د یوې اداري کار کوونکي ورباندې په اسانۍ سره وپوهېږي.

د څېړنې موخې

- د دې څېړنې اصلي موخه د کیفیت لوړونې په بهیر کې د معیاري ژبې ونډه څېړل او دا معلومول چې یوه ژبه د کیفیت لوړونې په برخه کې څومره اغېز لري؟ د دې ترڅنګ هغه خوا وي په ګوته کول او کیفیت لوړونې اغېز په ګوته کول؛
- د کیفیت لوړونې په برخه کې د معیاري ژبې ونډه څرګندول؛

د کیفیت لوړونې په برخه کې د ژبې ونډه

په نړۍ کې داسې څه به نه وي چې د ژبې څخه به اغیزمن شـــوي نه وي، ځکه همدا ژبه ده چې مور یې د یو بل د پوهولو او راپوهولو لپاره اســـتعمالو، که چېرته ژبه نه وای موجود نو بشرـــبه د

ډېرو ستونزو سره مخ وه، دا ژبه ده چې په اوسني وخت کې يې انسانان د پرمختګ تر لوړو پوړيو رسولي دي.

د تاريخي ژبپوهنې ليکوال د ياد مطلب په هکله کاږي: ژبه د نښو د مجموعې په توګه يوازې انسان، پخپله ټولنه کې زده کوي او د هغې په مرسته خپل فکرونه، غوښتنې، خيالات او احساسات خپلو همځولو وګړو ته څرګندوي او په دې توګه د پوهولو او راپوهولو وسيله ګرځي (غوربندی، ۱۳۹۷، ص. ۱۶).

که پورته پېژندنې ته وګورو چې د ژبې په هکله ليکل شوې ده نو په روښانه توګه ورځخه څرګنديږي چې مورږ خپل فکرونه، غوښتنې، خيالات او احساسات د همدې ژبې په واسطه تر نورو رسوو او هغه څه چې زمورږ په ذهنونو کې دي نورو ته انتقالو د ژبې په وسيله انسان يو بل درک کوي، له نور خلکو سره په اړيکو جوړولو کې همدا ژبه مرسته کوي او د يوې ټولنې ټوله پانګه که هغه مادي ده او که معنوي په همدې ژبه کې خوندي ده، کوم ملتونه چې ژبه ونه لري په اسانۍ سره له منځه ځي، د يادو خبرو په تائيد باندې غوره بولم د ژبپوهنې د کتاب څخه يا مطلب د لته رانقل کړم.

کله چې د يوه قوم ژبه له منځه ولاړه شي، نو ورسره هغه قوم هم خامخا له منځه ځي، په نړۍ کې ډېر داسي قومونه تېر شوي دي، چې کله يې ژبه مړه شوې ده، نو ورسره سم هماغه قومونه هم له منځه تللي او په نورو قومونو کې ورګډ شوي دي (غوربندی، ۱۳۹۷، ص. ۱۹).

يوه خبر بله دلته اړينه بولم چې ژبه خپله يو بشري خاصه ده، چې انسانانو ته يې په حيواناتو باندې لوړوالی ورکړی دی او د حيواناتو له ژبې سره ژور توپير لري، که چېرته انسان ژبه نه درلودی نو په ژوند کې به يې دومره پرمختګ نه وه کړی.

لکه ياد ليکوال چې وايې: انسان د خدای ج تر ټولو غوره مخلوق د فکر عقل او خبرو د قوت له امله پر ټولو کائيناتو لوړاوی لري، هغه څه چې د افکارو د څرګندلو ډېره ښه وسيله کېدای شي او انسان ته پر نورو حيواناتو جلا امتياز وربخښي هغه د وينا او خبرو کولو جوهر دی (رښتين، ۱۳۷۲، ص. ۴).

ژبه په ټولنه کې د هر ډول مفاهمې وسيله ګڼل کېږي، که دغه اړيکې په اشاروي توګه وي، که د نښو او نورو لارو په صورت کې، خو ژبه په خاص مفهوم سره د يو لړ اختياري وييزو او اوريزو سېمبولونو علايمو يوه مجموعه ده چې هر يو سېمبول يې زمورږ د يو ذهني انځور نمايندګي کوي،

دا انځورنه د انساني چاپېريال او مهال ځيزونو او د پوهولو يوه اله او وسيله ګرځي (خوښکی، ۱۳۹۲، ص. ۲).

د پورته يادو تعريفونو ځخه مې موخه دلته د ژبې هغه دندې او ځانګړنې وې چې موږ يې په ورځني ژوند کې د ژبې په وسيله ورځخه استفاده کوو او د ژبې په وسيلې سره کولای شو چې خپلې ستونزې او کارونه په اسانۍ سره سرته ورسوو، خو ځرنګه چې زما موضوع د کيفيت لوړونې په برخه کې د ژبې ونډه ده نو غواړم چې په کيفيت لوړونې هم يو څه تم شم او له هغې وروسته د کيفيت لوړونې په برخه کې د ژبې ونډه په پوره وضاحت سره وځېړم.

کيفيت لوړونه (Quality Assurance - QA) يو منظم او سيستماتيک بهير دی چې د دې لپاره کارول کېږي تر څو دا وځېړي چې آيا يو محصول يا خدمت له ټاکل شوو معيارونو سره سمون لري که نه، يا کيفيت لوړونه دا هدف لري چې د باور وړ خدماتو ته پراختيا ورکړي کوم چې د ياد هدف لپاره مشخص شوي او يا وضع شوي دي.

د کيفيت لوړونې پروسه د دې لپاره رامنځته شوې چې د مشتريانو باور زيات کړي، د يوې اداري اعتبار لوړ کړي او همداراز د کار د بهيرونو او مؤثريت په ښه والي کې مرسته وکړي. سربېره پر دې، دا بهير يادې ادري ته دا زمينه برابروي چې په خپل بازار کې سيالي وکړای شي (Quality assurance, 2023, p. 2).

که د کيفيت لوړونه په برخه کې پورته متن ته نظر واچوو نو دا ترې څرګنديږي چې کيفيت لوړونه د يوې اداري اعتبار لوړوي او همدارنګه د بهيرونو په ښه والي کې مرسته کوي، د دې تر څنګ دې ته زمينه برابروي چې د خلکو باور او معيارونه په سم ډول وضع شي. د تګلارو تسلسل او د عملونو بهيرونه باور وړتيا د دې سيستم د ماموريت د ترسره کولو لپاره مهم دي، نن سبا د نړيوالو معيارونو پر لور خوځښت په اکاډميکو سيستمونو کې د کيفيت د منلو لپاره زياتېدونکي غوښتنې رامنځته کړي دي، خو دا غوښتنې د ارزونې هغو مېتودونو ته اړتيا لري چې د اداري سيستم سره هم مهاله کار وکړي او ځارنه يې وکړي، تر څو د کيفيت د پلې کېدو ډاډ ترلاسه شي. دا بهير او پروسه په منطقي توګه د کيفيت چې د بهيرونو سره يو ځای شي نو دا د کيفيت لوړونه موږ ته څرګندوي، کيفيت لوړونې موږ ته يو چوکاټ اندازه کوي، د پلي کېدو وړ لارښوونې کوي، د ښو تجربو نښې او تل د هغه وسايلو په لټه کې وي چې دا بهير اسانه کوي او د سيستم ماموريت ته د رسېدو لپاره مرسته کوي. (Durmuş Şenyapar, H. N., & Bayındır, 2024, p. 93)

که څه هم کیفیت لوړونه زما په اند باندې یوه پروسه ده او د دې لپاره ورځخه استفاده کېږي چې څنګه کولای شو خپل اکاډمیک سیستمونه په نړیوالو معیارونو باندې سمبال کړو خو د دې ټولو لپاره اول ژبه مهمه ده چې په نړۍ وال معیارونو باندې برابره وي، که چېرته ژبه معیاري نه شي او شته ستونزې پکې حل نه شي نو نه شو کولای چې نور خلک په اسانۍ سره په خپلو تجربو خبر کړو او یا هغه لارې چارې چې د کیفیت لوړونې په برخه کې ورځخه استفاده کوو نورو خلکو ته انتقال کړو.

د یاد مطلب په تړاو اســتاد همکار کاږي: هر څوک چې قلم را اخلي او څه لیکي د هماغې ژبې په معیاري ګړدود باید پوه وي، د ژبې له ګرامر سره پوره بلدتیا او اشنایي ولري، د لیکوالۍ له ارونو سره هم پوره اشــنایي ولري، لیکوال ته په کار ده چې هغه کلمې و کاروي، چې اســانې، سلیسې او تر یوې مانا زیاتې و نه لري، د لنډو جملو څخه باید کار واخلي، بې ځایه زیاتونې دې په جملو او پراګرافونو کې نه کوي.(همکار، ۱۳۹۵، ص. ۲۱۷).

که چېرته موږ غواړو چې د یوې اداري کیفیت پروســه په ســم ډول و ارزوو او د هغې هدف مقابل لوري په ســاده مفهوم او اســانۍ سره وړاندې کړو نو موږ په هغه ژبه کې دغه پورته ځانګړنو ته ضرورت لرو ترڅو چې په یادو برخو کې پوره مهارت ونه لرو نشو کولای چې خپله هدف او د اداري کیفیت لوړ کړو.

همدارنګه په بل ځای کې بیا وایې: ژبه د یوې ټولنې د وګړو تر منځه د اوازونو او اشــارو ټولیز اکتســابي او قراردادي ســیســتم دی، چې د یو او بل د پوهولو راپوهولو لپاره په کار وړل کېږي (همکار، ۱۳۹۴، ص. ۱۱).

د ژبې کیفیت لوړونه یوه پروســه ده چې پکې د ژبړل شــوي یا لیکل شــوي منځپانګې ژبنی دقت او کیفیــت لوړونــه ارزول کېږي، تر څو دا یقیني شي چې په یــاده منځپــانګــه کې د هــدف لرونکي مخاطب لپاره مناســبه ده او که نه، چې په پورته بهیر کې لاندې برخې شــاملې دي، ګرامر او نحوه، اصــطلاحات، کلتور مناســبت، فعالیتونه او د کار وړتیا پکې شــامل دې (Smartling, 2023, p. 2)

د کیفیت لوړونې په برخه کې رونړتیا باید شتون ولري، چې خلک وکولای شي ستاسو خبرې په اســانۍ سره درک کړي، مبهمې یا مغلقې جملې باید و نه کاروي ځکه مغلقې خبرې د اړیکو خنډ ګرځي، د دې ترڅنګ مو باید ژبه ادبي وي یعني توهین یا خرابه کلمات د لیکنې ارزښت له منځه وړي، ورسره په خوا کې د مخاطب درک کول دي چې د هغې احساساتو ته په لیکنه او وینا

کې باید پاملرنه وشي او تر څنګ يې کلتوري او فرهنګي ارزښتونه هم له پامه ونه غورځول شي يا ناسم تعبير نه شي.

د ژبې په دندو کې هم يادې خبرې ته پوره اشـــاره شـــوې ده او دغه برخې د کيفيت لوړونې سره پوره اړخ لګوي پرته له دې څخه نه شو کولای چې مور دي کيفيت لوړونه په يو معياري بڼه باندې مخته يوسو.

د ژبې اساسي دندې: لومړۍ دنده داده چې د خلکو تر منځ د پوهاوي او راپوهاوي د وسيلې په توګه کار کوي، د ژبې دويمه دنده داده چې ژبه د فکر د ودې د وســيلې په توګه کار کوي، يا فکر د يوې ډلې شيانو د عمومي خاصيتونو انعکاس او د شيانو په منځ کې د عمومي اړيکو موندنه ده، دريمه دنده د ژبې ځان پېژندنه ده ژبه د قوم د پېژندنې د هويت نښـــه ده (اخلاص، ۱۳۹۶، ص. ۹).

که څه هم ياده اصـــطلاح په لومړي سر کې د کارو بار په نړۍ کې رامنځته شـــوه خو وروســـته تعليمي ادارو لکه پوهنتونونه او ښـــوونځي هم و کولای شـــوه چې له دې تجربو ګټه پورته کړي، ځکه د زده کوونکي او والدين هم د خدماتو اخيستونکي مشتريان دي، که چيرې په ښوونځو يا پوهنتونونو کې د کيفيت معيارونه رعايت کړي نو د دوی اداره به د اعتماد وړ او موثر بنســـټونو څخه برخمن وي.

د کيفيت لوړونې مفکوره نوي نه ده خو هغه اصـــطلاحات او ميتودولوژۍ چې اوس مهال د دې تعريف پراختيا او پلي کولو لپاره کارول کېږي نسـبتا وروسـتۍ دي، په يوه اداره کې د کيفيت په اړه بيلابيل تفسيرونه شته، بېلابېل تعريفونه ورته وړاندې شوي دي خو تر اوسه پورې په دې اړه يو توافق ته نه دې رسيدلي.

کيفيت لوړونه د ژبې سره يو نه شليدونکي اړيکه په ټولو برخوکې لري، د معلوماتو راټولول د هغه برخه ده چې معلومات بايد روښـانه وي داسي و نه ليکل شي چې د معلوماتو کيفيت ته خطر ورسوي، ياد معلومات په داسي روان او ساده شکل سره ترتيب شي چې په راتلونکي کې د نورو لپاره د کارونې او پوهېدلو وړ وي، د دې تر څنګ د ژبې په و ســـيله کولای شـــو چې د تفاهم ليکونو، د سـيسـتمونو بدلونونه، د يوې ادارې اړتياوې او هغه غوندې چې په يوه ادارې کې ترسره کېږي د هغې راپورونه پکې خوندي او وساتو.

همدارنګه ژبه بايد داسي معيار شي چې کار کوونکي، مديران او مشـــتريان په اســـانۍ سره وکولای شي چې خپل هدف لاس ته راوړي، بي معيار ژبه کولای شي چې د غلطو تصـــميمونو

تېروتنو وسیله یو محصول او یا هدف د ناکامۍ سره مخ کړي، د دې تر څنګ د کیفیت لوړونې لپاره اړتیا ده چې پروسیجرونه، معیارونه او راپورونه په ښه ژبه ولیکل شي، که چیرته اسناد خراب وي یا په یو بې کیفیته ژبه باندې لیکل شوي وي، نو نه شو کولای چې له هغې څخه سمه استفاده وکړو، د ښوونې او روزنې په برخه کې ژبه بیا زیات ارزښت لري ښه ژبنې مهارتونه کولای شي چې خپل هدف مقابل لوري ته په اسانۍ سره ولېږدوي.

پایله

د پورته څېړنې او تحلیل څخه دې نتیجې ته رسیږو چې ژبه نه یوازې د افهام او تفهیم وسیله ده، بلکې د کیفیت لوړونې په هره مرحله کې یو بنسټیز، فعال او نه جلاکېدنکی عنصر دی، ژبه د مفاهمې، وضاحت، ستونزو مخنیوي او د معیارونو د پلي کولو لپاره اساسي وسیله ده، له تاریخي، ټولنیز او علمي نظره ژبه د انسان د پرمختګ، د ټولنو د دوام او د هویت ساتنې بنسټ ګڼل شوې ده، چې دا وندې یې د کیفیت د لوړونې په سیستمونو کې هم له پامه نشو غورځولی.

په تعلیمي، تولیدي او خدماتي اداري نظامونو کې د کیفیت لوړونې د تګلارو، معیارونو، ارزونو او اجراتو سره ژبه مستقیم تړاو لري، چې دا ټول له ژبې پرته نه شي تر سره کېدای، د ژبې رونتیا، معیارونه، ساده توب، فرهنګي حساسیت او د مخاطب درکول هغه فکتورونه دي چې د کیفیت لوړونې د بریا لپاره اړین ګڼل کېږي که ژبه مغلقه، بې نظمه یا بې معیاره وي، نه یوازې دا چې د افهام او تفهیم بهیر ګډوډي، بلکې د کیفیت د سیستمونو ارزونه، پلي کول او پر مخ بیول هم له خنډونو سره مخ کوي.

د علمي اسنادو، راپورونو، طرزالعملونو او تفاهم لیکونو ژبنی کیفیت مستقیما د ادارو پر اعتبار، د مشتریانو پر باور او د داخلي کار کوونکو په درک اغېز لري، همدا راز د ژبې پیاوړتیا او معیاري استعمال د دې سبب کېږي چې یوه اداره خپل ماموریت، هدفونه او بهیرونه په موثر ډول نورو ته انتقال کړي او د نړیوالو معیارونو سره ځان عیار کړي، په پای کې ویلای شو چې د کیفیت لوړوالی په هره اندازه کې، که هغه د لوړو زده کړو، تولیدي صنعت، یا خدماتو په برخه کې وي، ژبه د هغې د بنسټیو عناصر څخه ده او دهغې معیاري، هدفمند او مناسب استعمال د بریا، اعتماد او پر مختګ مهمه کیلې ده.

وړاندیزونه

۱. په یاده برخه کې په پښتو ژبه کې زما په اند دا لومړۍ هڅه ده چې ما وربانديې یاده مقاله ولیکله، شاید په ځینو برخو کې به ستونزې موجود وي خو په راتلونکي کې د ژبپوهانو

څخه غوښتنه لرم چې د ژبې او کیفیت لوړونې یادې برخې لپاره په هر اړخیز ډول کار وکړي.

۲. د کیفیت لوړونې لپاره دې یو معیاري ژبنی لهجه غوره شي تر څو مستندات یو شان او د ټولو لپاره قابل د فهم وي، د دې ترڅنګ دې په اداري برخو کې د ژبنیو مهارتو په اړه دې روزنه او معلومات ورکړل شي.

۳. په اتومات او تخنیکي وسایلو کې دې له داسي سادې او روانې ژبې او لهجې ته پاملرنه وشي، تر څو د هر چا لپاره د درک وړ وي او وربانديې کار وکولای شي.

ماخذونه

اخلاص، نظیفه. (۱۳۹۶). *پښتو ژبې تاریخ*. کابل: انتشارات نویسا.

خوښکی، محمد صابر. (۱۳۹۲). *پښتو غږپوهنه او وییپوهنه*. جلال اباد: ختیځ خپرندویه ټولنه.

رښتین، صدیق الله. (۱۳۷۲). *پښتو ګرامر*، پیښور: یونیورسټي بوک ایجنسي.

غوربندی، میراجان. (۱۳۹۷). *تاریخي او مقایسوي ژبپوهنه*. کابل: نویسا خپرندویه ټولنه.

همکار، محمد ابراهیم. (۱۳۹۴). *وزنپوهنه*، جلال اباد: ختیځ کتابپلورنځی.

همکار، محمد ابراهیم. (۱۳۹۵). *ادبي کره کتنه*، جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.

Adapted from Durmuş Şenyapar, H. N., & Bayındır, R. (2024). *Quality assurance in higher education in the 21st century: Strategies and practices for new generation universities*. *Higher Education Governance & Policy, 5*(2), 115-133.

Quality assurance. (2023). *Investopedia*. https://www.investopedia.com/terms/q/quality-assurance.asp

Smartling. (2023). *what is linguistic quality assurance (LQA)?* Smartling.